# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## ریاست اطلاعات و ارتباط عامه

# بولتن خبری

# News Bulletin

**31 ثور _سال 1401**


اخبار مهم
افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

**عنوان** **صفحه**

کابل ولایت کې له څلور سوه داخلي بې ځایه شوو او اړمنو کورنیو سره مرسته وشوه-------------------------------4
له پاکستانه (۱٦٥) افغان کډوالې کورنۍ راستنې شوې-------------------------------------------------------------4
طالبان سفر غیرقانونی از افغانستان را ممنوع کردند----------------------------------------------------------------5
لسګونه افغانان د پاریس د سړک غاړې له خیمو څخه یوه هوټل کې ځای پر ځای شوي -------------------------------6
راپور: نړۍ کې د داخلي بې ځایه شویو شمیر نږدې ۶۰ میلیونو ته لوړ شوی ----------------------------------------8
د سویل ختیځ زون د څلورو ولایتونو په کچه د قومي شخړو د حل په موخه شورا تشکیل شوه-----------------------9
یازده مهاجر در برابر سواحل الجزایر در آب غرق شدند ---------------------------------------------------------10
یک زن پناهجوی افغان در اثر سکته قلبی در یک کمپ ایتالیا جان باخت-------------------------------------------11

## کابل ولایت کې له څلور سوه داخلي بې ځایه شوو او اړمنو کورنیو سره مرسته وشوه

د وزارت وېب پاڼه




د کابل ولایت د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو ریاست په همغږۍ د IRC مؤسسې له لورې له ۴۰۰ بې ځایه شوو او اړمنو کورنیو سره نغدي مرسته وشوه چې هرې کورنۍ ته ۲۴ زره افغانۍ ورکول شوې.
یادې کورنۍ د ګډ پلاوي له لورې په نښه او د مرستې لپاره ور پېژندل شوې وې چې نن پرې د کابل ولایت په شهرنو سیمه کې مرسته وویشل شوه.

## له پاکستانه (۱٦٥) افغان کډوالې کورنۍ راستنې شوې

د وزارت وېب پاڼه

د کندهار د کډوالو چارو ریاست د سپین بولدک سرحدي اداره وايي، د غويي له (۲٦) څخه تر (۲۹) پورې له پاکستانه د (۱٦٥) کډوالو کورنیو د راستنېدو خبر ورکړ .

د سرچینې د معلوماتو له مخې، په راستنو شویو کورنیو کې له دې جملې څخه (۱۵۳)کورنۍ، چې (۱۰۴۹) تنه کیږي دغه کې هغه کسان شامل دي چې اسناد نلري او۱۲ کورنۍ چې (۷۸) تنه دي هغه کسان شامل دي چې اسناد لري او د سپین بولدک او چمن له لارې راستانه شوي وو.

## طالبان سفر غیرقانونی از افغانستان را ممنوع کردند

مهاجر نیوز



مسئولان طالبان اتباع افغان را که قصد سفر به ایران و پاکستان از مسیرهای قاچاق و غیرقانونی را دارند، ممنوع کردند. از سوی دیگر، بیش از ۱۴۰۰مهاجر افغان در یک روز از ایران از طریق ولایت نیمروز اخراج شده و یا به گونه داوطلبانه به کشور بازگشتند.

رئیس امور مهاجران و عودت کنندگان در ولایت نیمروز در گفتگو با طلوع نیوز از ممنوعیت سفر غیرقانونی افغان ها به ایران خبر داد. وی گفت که طبق دستورات طالبان این کار را انجام داده است. به گفته طالبان، به تمام مرزبانان دستور داده شده است که از سفر غیرقانونی شهروندان به کشورهای همسایه جلوگیری کنند.

این در حالی است که با روی کار آمدن طالبان در افغانستان، ده ها هزار افغان به شمول برخی از مقامات دولتی سابق، از مسیرهای غیر قانونی و قاچاق به ایران و پاکستان فرار کرده اند.

پیش از این، نیروهای مرزی در ولایت نیمروز به خبرگزاری فرانسه گفته بودند که از زمان تسلط طالبان به افغانستان، روزانه بین سه تا چهار هزار مهاجر افغان در تلاش هستند تا به ایران عبور کنند.

دستور جدید طالبان بسیاری از افغان هایی را که قصد سفر به ایران را دارند نگران کرده است. برخی از خانواده ها به طلوع نیوز گفتند که اگر برای آنها زمنیه کار در کشور را فراهم باشد، هرگز چنین سفر پرخطری را انجام نمی دهند.

وزارت امور مهاجران و عودت کنندگان در افغانستان اعلام کرد که تنها در روز چهارشنبه ۱۸ می، ۱۴۶۱ مهاجر افغان به اجبار از ایران اخراج شده و یا داوطلبانه از طریق ولایت نیمروز به کشور باز گشتند.

این وزارت در بیانیه ای اعلام کرد که بیش از هزار تن از جمله ۴۳ خانواده به زور اخراج شده اند.

در این بیانیه آمده است: «در میان آنها ۴۳ خانواده و ۸۲۶ مرد مجرد بودند که به زور اخراج شدند و ۴۵۴ تن دیگر داوطلبانه برگشتند«.

افراد نیازمند پس از بازگشت به دفتر سازمان بین المللی مهاجرت فرستاده شدند.

از سوی دیگر، اعلامیه می افزاید که ۴۴ خانواده افغان روز سه شنبه از طریق مرز اسپین بولدک از پاکستان بازگشتند.

## لسکونه افغانان د پاریس د سرک غاړې له خیمو څخه یوه هوټل کې ځای پر ځای شوي

مهاجر نیوز

د پاریس په ختیځ ګالیني سیمه کې په یوه هوټل کې لسګونه افغانانو ته چې څو میاشتې د سړک پر غاړه تر خیمو لاندې و، د سرپناه زمینه برابره شوې. ۱۹ کلن میلاد* هغه افغان کډوال دی چې چې له خپلې مور سره یو ځای درې میاشتې ترخیمي لاندې له کړاوه ډک ژوند تیراوه. هغه اوس د Ibis په دغه هوټل کې د خوشحالی احساس کوي او وایي چې کولای شي په آرامه خوب وکړي.

د پاریس د شمالي برخې پانتن په سیمه کې د شاوخوا ۵۰۰ کډوالو خیمې د چهارشنبې په ورځ د مې په ۱۱ مه، د فرانسوي پولیسو لخوا ټول او اوسیدونکي یې د سرپناه په موخه نورو ځایونو ته واستول شول. میلاد هم د همدغه کمپ له اوسیدونکو څخه و چې څلور میاشتې یې د سرپناه لپاره تر خیمې لاندې دغلته د انتظار شیبې سبا کولې چې بلاخره اوس په یوه هوټل کې ورته د سرپناه زمینه برابره شوه.

دغه افغان ځوان کډوال نیوز ته خپله کیسه کوي:

**»درې میاشتې د پاریس د پانتن په کمپ کې له خپلې مور سره ترخیمې لاندې وم .په دغه موده کې مې د سرپناه لپاره څو ځلې ۱۱۵ شمیرې ته ټیلفون وکړ او د سرپناه غوښتنه مې وکړه خو زما غوښتنې ته چا توجه و نه کړه. ترخیمو لاندې ستونزې ډیرې وې او مور مې هم ناروغه وه. هیڅ ډول آسانتیاوو ته مو لاسرسی نه درلود.**

**د سرپناه د ترلاسه کولو لپاره مې له ډاکتر څخه د مور د ناروغۍ د ثبوت اسناد وړاندې کړ تر څو مونږ ته د استوګنې لپاره ځای راکړي خو هڅې مې بې پایلې وې. درې میاشتې مې ډیره هڅه وکړه خو بیا هم تر خیمو لاندې پاتې شوم«.**



د

پاریس په پانتن سیمه کې هغه کمپ چې میلاد له خپلې مور سره په کې څلور میاشتې تیرې کړې. انځور: کډوال نیوز

**هوټل کې د سرپناه برابرول**

**»له درې میاشتې ځنډ وروسته یوه ورځ سهار وختي د کمپ د تخلیي عملیات پیل شو او سهار وختي له ۱۰ نورو افغانو کورنیو سره یوځای د بس په موټرو کې دغه هوټل ته راوستل شو. دلته زه او مور مې په یوه کوټه کې ژوند کوو او اوس له خپل ژوند څخه ډیر راضي یم ځکه تر خیمې لاندې مو ډیرې ستونزې لیدلې وې. درې وخته تیاره ډوډۍ مونږ ته راکوي خو د پخلي او چاي د تیارولو حق نه لرو. دلته خوشحاله یم او هر ډول امکانات مونږ ته برابر دي. نظافت په سمه توګه مراعت کیږي. زه ډیر آرام یم او کولای شم آرامه خوب وکړم.۲۵ نور افغانان هم دلته شته او زه له دې امله له چارواکو مننه کوم.زمونږ د اداري کارونو لپاره سوسیال هم شته او مونږ سره په اداري چارو کې مرسته کوي.**

تر اتو مياشتو پورې مونږ ته دلته ځای راکړی خو له هغه وروسته خبر نه يو چې چيرته به مو واستوي«.

## راپور: نړۍ کې د داخلي بې ځايه شويو شمير نږدې ۶۰ ميليونو ته لوړ شوی

مهاجر نيوز



د بيځايه کېدنې د څار نړيوال سازمان او د مهاجرو لپاره د ناروې هيواد مرستندويه سازمان په خپل راپور کې وايي چې په ۲۰۲۱ کال تر ۵۹ مليونو څخه زيات انسانان په خپل هيواد کې دننه بېځايه شوي و.

د بيځايه کېدنې د څار نړيواله سازمان (IDMC) او د مهاجرو د ملاتړ ناروېژي سازمان (NRC) په خپل کلني راپور کې چې د پنجشنبې په ورځ د می په ۱۹مه خپره شوې ويلي چې په روان ميلادي کال کې به د تير کال په پرتله د داخلي بې ځايه شويو خلکو شمير نور هم زيات شي. ياد سازمانونه يې دليل د اوکراين جګړه بللې.

په راپور کې راغلي چې په ۲۰۲۱ کال د افريقايي صحرا په سيمه کې د داخلي بيځايه شوو شمير تر ټولو زيات ؤ. په دغو کې پنځه مليونه انسانان يوازې په ايتوپيا هيواد کې بيځايه ول چې په يو هيواد کې دننه په نړيواله توګه تر ټولو زيات شمير دی .په دغه هيواد کې د امنيتي ستونزو تر څنګ وچکالي هم د انسانانو د مهاجرت سبب شوی دی.

د کانګو په دموکراتیک جمهوریت، افغانستان او میانمار کي هم د کورني بیځایه سوو کسانو شمیر لوړې کچې ته رسیدلی. په منځني ختیځ او شمالي افریقا کي د تیرو لسو کالو راهیسي تر ټولو کم نوي کسان په خپلو هیوادونو کي دننه بیځایه یا شړل سوي دي. خو په ټولیزه توګه په بعضي هیوادونو لکه سوریه او عراق کي لا تر اوسه هم د داخلي بیځایه سوو کسانو شمیر زیات دی. د راپور له مخي په ۲۰۲۱ کال کې د خپل هیواد دننه د بیځایه کېدنو تر ټولو لوی لامل قدرتي آفتونه ول. په دې ترڅ کي په چین، هند او فلپین کې زیات شمیر خلک له خپلو سیمو څخه مهاجرت ته مجبوره شول.

د څو کالونو راهیسي په دومداره توګه په نړۍ کي د هغو کسانو شمیر مخ په زیاتېدو دی چي په خپل هیواد کي دننه له یوې سیمي څخه بلي سیمي ته بې ځایه یا په مهاجر کولو مجبوره کیږي. په ۲۰۲۱ کال ثبت سوی د داسو کسانو شمیر له تیرو لسو کالو راهیسي تر ټولو لوی دویم شمیر دی.

## د سویل ختیځ زون د څلورو ولایتونو په کچه د قومي شخړو د حل په موخه شورا تشکیل شوه

د وزارت وېپ پاڼه



د خوست ولایت مقام د ناستو په تالار کې د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزیر الحاج خلیل الرحمان حقاني په مشرۍ یوه لویه پرتمینه غونډه وشوه

په دغه ناسته کې د څلور ولایتونو خوست، پکتیا، پکتیکا او لوګر د والیانو ترڅنګ ددغه ولایتونو علماؤ او قومي مشرانو هم ګډون درلود

بناغلي حقاني په خپله وینا کې د قومي شخړو، ناوړه دودونو او د یادې شورا د جوړولو د اهمیت ترڅنګ وویل چې سر له نن څخه هیڅوک په بل چا د تجاوز حق نلري او ټولې ستونزې به د خبرو له لارې هوارېږي نوموړي زیاته کړه، دا شورا یوازې ددغه ولایتونو پورې محدوده نه ده او ژر به د هیواد ټولو ولایتونو ته وغځېږي

ناستي ته د خوست والي مولوي محمد نبي عمري، د پکتیا والي مولوي احمد علي جان، د پکتیکا والي مولوي عبدالله مختار او د لوګر والي مولوي عنایت الله ویناوې وکړې او د شورا جوړول یې ګټور ګام وباله او په تعقیب یې د څلورو ولایتونو علماؤ، قومي مشرانو او مخورو هریو په خپل نوبت وینا وکړه او جرګه یې د اسلامي شریعت او د افغاني کلتور له مخې مهمه وبلله

د یادوني وړ ده، چې په خوست ولایت کې له ډېرې مودې راهیسې د منګلو او زامبر قومونو ترمنځ د ځمکې پرسر شخړه ده، چې له دواړو لورو لسګونه کسان پکې وژل شوي

په دغه ناسته کې پریکړه وشوه، چې نهایي حل ته رسېدو پورې به دوی اور بند کوي او شورا به دغه معضلې ته د خبرو اترو له لارې د پای ټکی ږدي.

## یازده مهاجر در برابر سواحل الجزایر در آب غرق شدند

مهاجرنیوز



عکس: ارشیف/ایتالیا، سنت انتیوکو، ساردینیا، پولیس امور مالی ایتالیا دو قایق کوچک با ۳۵ مهاجر الجزایری را متوقف کرد.

- براساس گزارش ها ۱۱ مهاجر که قصد سفر به اروپا را داشتند، در نزدیک سواحل الجزایر در آب غرق شدند.
- 
- پنج تن به شمول دو کودک نجات داده شدند .

یک فرستنده تلویزیونی خصوصی در الجزایر و یک سازمان امدادگر اسپانیایی روز دوشنبه تایید کردند که گروهی از مهاجران در نزدیک سواحل الجزایر در آب غرق شده اند.

به گزارش فرستنده تلویزیونی الحیات، پناهجویان سفرشان را از فوکه، واقع در غرب الجزیره آغاز کرده بودند. سازمان اسپانیایی "سیپیمد" نیز اعلام کرد که ۱۶ تن از این سانحه متاثر شده اند. تصاویر قربانیان در شبکه های اجتماعی نیز نشر شده اند.

بربنیاد گزارش ها، همه این مهاجران اهل فوکه هستند که در ۷۰ کیلومتری غرب الجزایر موقعیت دارد. گفته می‌شود که بازماندگان این سانحه ۱۴ ساعت در آب انتظار کشیدند تا که یک کشتی مصری آن ها را نجات داد.

براساس اطلاعیه وزارت دفاع الجزایر، گارد ساحلی این کشور در روزهای ۴ تا ۱۱ ماه می از «خروج غیرقانونی» ۱۷۲ تن از کشور جلوگیری کرد و جان ۱۷۲ تن را که سوار «بر قایق های نامناسب» بودند، نجات داد .

طبق اطلاعات سازمان اسپانیایی کامیناندو فرونتراس، در سال گذشته، ۴۴۰۰ تن که سعی داشتند از مسیر بحر به اسپانیا بیایند، جان باختند و یا این که از آن زمان ناپدید شده به شمار می آیند.

## یک زن پناهجوی افغان در اثر سکته قلبی در یک کمپ ایتالیا جان باخت

مهاجرنیوز یک زن پناهجوی افغان که از طریق بحیره مدیترانه روز دوشنبه به ایتالیا رسیده بود، در اثر سکته قلبی جان باخت. وضعیت صحی او آنقدر جدی ارزیابی نشده بود که به بستری شدن نیاز دانسته شود. یک زن ۷۰ ساله که از افغانستان فرار کرده و پس از یک سفر خطرناک از طریق بحیره مدیترانه به ایتالیا رسیده بود، روز چهارشنبه ۱۸ ماه می در بندر روچلا ایونیکا جان باخت. مسئولان در حال تحقیق راجع به مرگ ناگهانی او هستند .

این زن دوشنبه شب به همراه ۹۶ تن دیگر به ایتالیا رسیده بود. شمار زیادی از کودکان در میان این گروه از پناهجویان نیز حضور داشته اند.



۱۵ ماه می سال ۲۰۲۲، مهاجران به بندر روچلا ایونیکا در کالابریا رسیدند ANSA/ANTONELLO LUPIS /.

**به گفته منابع، این زن بلافاصله پس از رسیدن به قلمرو ایتالیا دست کم دوبار توسط یک تیم طبی «USMAF» معاینه شد. آژانس «USMAF» مربوط به وزارت صحت این کشور است که وظیفه معاینه های طبی مسافران را برعهده دارد.**

**طی این معاینات شرایط او خطرناک ارزیابی شد، اما نه آنقدر جدی که به بستری شدن در شفاخانه نیاز داشته باشد. این زن در یک کمپ خیمه ای اسکان داده شد که چند هفته پیش، در پی افزایش شمار تازه رسیدگان تاسیس شده بود.**

**چهارشنبه صبح، وضعیت صحی او ناگهان بدتر شد و این زن ۷۰ ساله با وجود آمدن سریع مددکاران صحی و ماموران رضاکار صلیب سرخ جان باخت. پس از آن معلوم شد که این زن پناهجوی افغان به دیابت مبتلا بوده است .**

**انتظار می‌رود که سارنوالان در لوکری، شهر مجاور دستور کالبدشکافی بدهند، در حالی که پولیس مصروف تحقیق راجع به مرگ این زن پناهجو است.**

**این کمپ متشکل از خیمه ها برای سکونت کوتاه مدت مهاجرانی ایجاد شد که به بندر روچلا می‌رسند. در سال گذشته این بندر یکی از اهداف اصلی قاچاقبران انسان بود که پناهجویان را از سواحل ترکیه روانه اروپا می‌کنند.**

با این وجود، به خاطر افزایش شمار پناهجویان در ماه های اخیر این کمپ میزبان مهاجرانی شده است که مجبور به زندگی در شرایط فقیرانه هستند. در سال روان میلادی، ۱۷ مورد ورود پناهجویان به روچلا صورت گرفته است.

در یک مورد دیگر که پناهجویان به همان منطقه ساحلی در کالابریا رسیدند، دو شهروند روسیه که مظنون به قاچاق انسان بودند در آب غرق شدند.

خبرنامه